# د اودس او تیمم او غسل کولو طریقه 2

## د اودس طريقه

1
په زړه سره به د اودس كولو نيت وكړي, بيا به "بسم الله " وو ايي, بيا به خپل دواړه لاسونه ومينځي.



2
بيا به د خپل ښي لاس په لپه كې اوبه راواخلي, او مضمضه به وكړي يعني( په خوله كې به اوبه واچوي او خوله كې به يې تاو راتاو كړي )او بيا به له خولې نه اوبه وغورځوي بيا به استنشاق وكړي: يعني(په پوزه باندې به اوبه راكش كړي) بيا به استنثار وكړي: يعني(د چپ لاس په موټی او د تشهد په ګوته به پوزه سون كړي).



3
بيا به خپل مخ ووينځي "چې د ويښتانو د عادي راختلو ځای څخه د ږيرې او زنې ترپايه پورې په اوږدوالي سره او د دواړو غوږونو ترمنځ عرضًا "



4
بيا به دواړه لاسونه د ګوتو سرونو څخه تر څنګلو پورې ومينځي, له خپل ښي لاس څخه به شروع وكړي بيا به خپل چپ لاس ومينځي.



5
بيا به په خپل ټول سر مسح وكړي, دواړه لاسونه به د سر له مخې برخې څخه د سر ترشا پورې تېركړي، بيا به يې د خپل سر مخې ته راوګرځوي.



6
بيا به د غوږونو په سوړو كې خپلو دواړو ګوتو سرونه دننه كړي او په موټی ګوتو به د غوږو بهرنی برخه مسح كړي.



7
بيا به خپل دواړه پښې د دواړو ښينګرو سره ومينځي.



8
په مشروع مقدارباندې د زياتو اوبو استعمالولو حكم؟
په اودس كې له ټاكلې اندازې څخه زياتې اوبه استعمالول جايزنه دی لكه له درېو ځلو څخه زيات د يو اندام مينځل، يا د څنګل نه پورته د مټ څه برخه مينځل، يا د ښينګرو نه پورته د لينګو څه برخه مينځل او يا دا چې غاړه مسح كړي.



9
اوله اودس نه د فارغېدو وروسته دي :
"أَشهَدُ أَنَّ لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَحدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ ، وَأَشهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَرَسُولُهُ , اللَّهُمَّ اجعَلنِي مِنَ التَّوَّابِينَ واجعَلنِي مِنَ المُتَطَهِّرِينَ" وو ايي.

10
- د اودس ماتوونكي شيان :
1- هغه څه چې د مخكې او وروسته عورت څخه خارج شي, لكه: واړه يا غټ بول, او يا باد .
2- د عقل زايله كېدل په خوب يا بې هوښی سره .
3- د اوښ غوښه خوړل.

## د تيمم طريقه.

1
تيمم :
تيمم د اوبو د پاكوالي بديل دی كله چې پاكوالي په غړوكې د اوبو استعمال نا شوني وي, او يا اوبه لرې وي يا د اوبو د استعمالولو څخه ضرروېره لرې, دي وخت كې په خاوره تيمم كول د اوبو ځاې نيسي.

2
په زړه سره به د تيمم نيت وكړي, او بسم الله به وو ايي, بيا به ځمكه په دواړو لاسونو يو ځل ووهي, او د دواړو لاسونو په دننه برخه به خپل مخ او د دواړو لاسونو شا مسح كړي.

4 3 2 1



3
د ګوتو پراخول د ځمكې د وهلو په وخت كې مشروع نه دي , او نه د ګوتو خلالول( ګوتې په يو بل كې ننباسل) شته په وخت د مسح كولو د لاسونو كې .



## د واجب غسل طريقه

1
په زړه سره به د غسل نيت وكړي,او بسم الله به په پټه وو ايي, بيا به په ټول بدن باندې اوبه واړوي او د ټولو ويختانو ( كه ګڼ وی او كه رنګه وي) بيخونو ته اوبه ورسوي او خولې او پوزې ته به اوبه واچوي.

2
- د غسل واجبوونكي شيان :
1- لومړی جنابت: او جنابت حاصليږي په خارجيدلو د مني سره, كه د كوروالي په وجه وي او كه بله وجه, او كه د سرې او ښځې عورت يو ځاې كېدلو سره وي.
2- د حيض او د نفاس د وينې خارجېدل. 3- د شهادت پرته مرګ. 4- د كافر مسلمانېدل.

ترتيب كوونكی : دكتور هيثم سرحان, په مسجد نبوي كې مدرس, او په "معهد السنة" باندې نظارت كوونكی :
« mahadsunnah.com »

د چاپ كولو او نشركولو او د توزيع كولو حقوق د هر چا لپاره شته - ژباړې لپاره پروتنی لينک ووهی. يا باركود راكاږئ.